## د افغاني سرې میاشتې د ۱۴۴۵ سپوږمیزکال عمومي راپور

افغاني سره میاشت په ټول هېواد کې ( **۴۶۰۵ څلورزره شپږ سوه او پينځه** ) تنه ښځينه او نارينه رسمي او قراردادي کارکوونکي لري، چې په کې ( **۳۸۸۹ درې زره اته سوه، نهه اتيا** ) نارينه او پاتې ( **۷۱۶ اووه سوه شپاړس** ) تنه ښځې دي.

افغاني سرې میاشتې په ۱۴۴۵ سپوږمیز کال کې له خپل عملیاتي پلان سره سم له بغلان ولايت پرته په ټول هېواد کې د طبيعي او غير طبيعي پېښو له ( **۱۴۳۰۰۳۶ يو ميليون، څلورسوه ديرش زره او شپږديرش** ) زيانمنو او اړمنو وګړو سره د خوراکي، غير خوراکي توکو او نغدي مرسته کړې، چې په کې له ( **۷۰۴۴۱۲ اووه سوه څلورزره، څلورسوه او دولس** ) تنه وګړو سره د خوراکي توکو، ( **۲۹۳۰۴۵ دوه سوه، درې نوي زره، پنځه څلوېښت** ) وګړو سره د غير خوراکي توکو، ( **۱۴۰۳۶۰ يو سل څلوېښت زره، درې سوه او شپېته** ) وګړو سره د خوراکي او غير خوراکي توکو او له ( **۲۷۹۷۳۰ دوه سوه نهه اويا زره، اووه سوه دېرش** ) وګړو سره ( **۶۹۳،۴۱۹،۱۵۰ شپږ سوه درې نوي ميليونه، څلورسوه نولس زره، يو سل او پنځوس** ) افغانۍ نغدي مرسته شوې ده.

### بغلان ولايت کې له سېلاب ځپلو سره مرستې:

بغلان ولايت کې د سېلابونو له امله ټولټال (**۲۲۷۳۵ دوه ويشت زره، اووه سوه او پنځه دېرش**) کورنيو سره چې د غړو شمېر يې (**۱۶۹۰۷۰يو سل نهه شپېته زره، اويا**) تنو ته رسېږي؛ بشرپال خدمات ترسره شوي، د ياد شمېر له ډلې (**۱۱۱۱۲۴ يو سل، يوولس زره، يو سل او څلورويشت**) تنو سره د خوراکي توکو، (**۹۲۹۸ نهه زره، دوه او اته نوي**) تنو سره د غير خوراکي توکو، (**۴۰۵۳۲ څلوېښت زره، پنځه سوه او دوه دېرش**) تنو سره د خوراکي او غير خوراکي توکو، (**۶۵۸۲ شپږ زره، پنځه سوه او دوه اتيا**) تنو سره د (**۶۹۹۶۵۰۰ شپږ ميليونه، نهه سوه شپږنوي زره، پنځه سوه**) نغدو پيسو او همدا ډول (**۱۵۳۴يو زر، پنځه سوه او څلوردېرش**) تنو سره د خوراکي توکو او نغدو پيسو مرسته شوې.

په يادو مرسته شويو خوراکي او غير خوراکي توکو کې اوړه، غوړي، لوبيا، وريژې، بوره، مالګه، چای، مکروني، بيسکوټ، نخود، خيمې، ترپالونه، د پخلنځي ګڼ توکي، د اوبو د ساتنې لوازم، کمپلې او ګڼ نور توکي شامل دي.

همدا ډول افغاني سرې میاشتې د روغتيا په برخه کې په ټول هېواد کې د ( **۴۶ شپږ څلوېښت** ) ثابتو روغتونونو، ( **۳۶ شپږديرش فرعي کلينيکونو** )، ( **۶۵ پينځه شپېته** ) د بېړنۍ روغتيا د آمريت ګرځندو روغتيايي ټيمونو، ( **۳۶ شپږديرش** ) ګرځندو روغتيايي ټيمونو، ( **۴۵ پينځه څلوېښت** ) د کټلوي معافيت روغتيايي کمپونو او مرکزي رياست له لوري ( **۵،۸۹۴،۳۳۲ پينځه ميليونه، اته سوه څلور نوي زره، درې سوه او دوه ديرش** ) تنه وګړو ته روغتيايي خدمات ترسره کړي، چې له ډلې يې ( **۲۲۱۲ دوه زره، دوه سوه او دولس** ) د سوري زړه پر ناروغۍ اخته ماشومان دي.

ددې ترڅنګ افغاني سره میاشت د هېواد په شپږو ولایتونو کې د رواني ناروغانو د پالنې او درملنې مرکزونه لري، چې په کې رواني ناروغانو ته د پالنې او درملنې ټولې اسانتیاوې په پام کې نیول شوي، د یادو مرکزونو له لوري د تېر یو کال په اوږدو کې ټولټال( **۳۲۸۲۴ دوه دېرش زره، اته سوه او څلورویشت**) رواني ناروغانو ته خدمات ترسره شوي، د یاد شمېر ناروغانو له جملې (**۹۹۴۱ نهه زره، نهه سوه او یو څلوېښت** ) تنو ته په اړوندو مرکزونو او پاتې ( **۲۲۸۸۳ دوه ویشت زره، اته سوه او درې اتیا**) تنو ته له مرکزونو بهر په خپلو کورونو کې روغتیایي خدمات ترسره شوي، همدا ډول اوسمهال د یادو رواني مرکزونو له لوري ( **۸۵۳ اته سوه درې پنځوس تنه**) په مرکزونو کې دننه او (**۲۲۷۷ دوه زره، دوه سوه او اووه اویا**) تنه په خپلو کورونو کې تر درملنې لاندې نیول شوي. د یادونې وړ ده، چې په یاده موده کې (**۳۶۲ درې سوه او دوه شپېته**) تنه تر درملنې او تداوۍ وورسته خپلو کورنیو ته سپارل شوي.

افغاني سره میاشت په بلخ، کابل، کندهار، ننګرهار او هرات کې ( **۵ پینځه**) مرستونونه لري، چې په یادو ( **۵ پینځه** ) مرستونونو کې ( **۱۴۹۵ څوارلس سوه اوپینځه نوي** )بې سرپرسته وګړو ته د اعاشې، اباتې، بدیل اعاشې او سرپناه خدمات ترسره شوي.

همدا ډول په یادو مرستونونو کې ( **۸۱۱۰ اته زره، یوسل اولس** ) تنه بې سرپرسته کونډو ته د خیاطۍ، ګلدوزۍ، غالۍ اوبدلو، ګیلم اوبدلو او لاسي ګنډلو په برخو کې حرفوي زده کړې ورکول شوي. همدا ډول د یادو بې سرپرسته کونډو ( **۴۷۱ څلورسوه اویو اویا** ) یتیمانو ته ښوونیزې زده کړې ورکول شوي.

د امیرالمؤمنین د حکم پر بنسټ د ټول هېواد په کچه ( **۱۱۶۲۵۹یوسل او شپاړس زره، دوه سوه او نهه پنځوس** ) سوالګر راټول شوي، چې له ډلې یې ( **۵۳۷۹ پینځه زره، درې سوه او نهه اویا** ) کورنۍ چې د غړو شمېر یې ( **۳۰۵۴۳ دېرش زره، پینځه سوه او درې څلوېښت**) کېږي، مستحق پېژندل شوي او د افغاني سرې له لوري ورسره په میاشتنۍ توګه ټولټال ( **۵۳۸۷۵۸۱۲ درې پنځوس میلیونه، اته سوه پینځه اویا زره، اته سوه او دولس** ) افغانۍ نغدي مرسته شوې.

د هېواد په ټولو ولایتونو کې ( **۲۴،۰۰۰ څلورویشت زره** ) بې سرپرسته کورنیو سره په ټوله کې ( **۲۰۴،۰۰۰،۰۰۰ دوه سوه او څلورمیلیونه** ) افغانۍ نغدي مرستې سربېره کابل ولایت کې له ( **۵۰۳ پینځه سوه او درې** ) کورنیو سره ( **۲۴۳۲۰۰۰ دوه میلیونه او څلورسوه دوه دیرش** ) زره نغدي مرسته شوې.

په هرو پینځلس ورځو کې د پینځلس ورځنۍ جریدې او په هرو دوه میاشتو کې د مجلې پر چاپ سربېره د افغاني سرې میاشتې د فعالیتونو ( **۳۰۹۷۰ دېرش زره، نهه سوه او اویا** ) خبرونه او راپورونه په پښتو، درې، عربي، ترکي او انګلیسي ژبو خپاره شوي او تر سیمه ییزو او نړیوالو رسنیو رسیدلي. همدا ډول د ( **۲۲۰۰۰ دوه ویشت زره** ) په شاوخوا کې نشراتي توکي چاپ او ویشل شوي. پر دې سربېره

د توزیع، سروې، روغتیايي خدماتو او خېرنیزو ناستو له لارې په ټول هېواد کې وګړو ته د افغاني سرې میاشتې او بشري خدماتو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی.

افغاني سرې میاشتې د املاکو په برخه کې د ګڼو نورو لاسته راوړنو سربېره شمال ختیځ زون کې د مرستون لپاره درې پوړیزه ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته چمتو کړې.

د افغاني سرې میاشتې اړوند د بامیانو، بغلان، میدان وردګ، لغمان، کاپیسا، پروان، سمنګان، سرپل او جوزجان ولایت نمایندګیو کې د ( ۵ ، ۴ **پینځه عشاریه څلورمیلیونه** ) افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا سیستمونه جوړ او ګټې اخیستنې ته چمتو شوي.

په ټول هېواد کې د افغاني سرې میاشتې اړوند څه کم دوه سوه جریبه ځمکه د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ له زور واکو او غاصبینو راګرځول شوې او افغاني سرې میاشتې ته سپارل شوې.

د افغاني سرې میاشتې د رهبرۍ په امر مرکزي آرشیف کې د تېرو ( **۸۳ درې اتیا**) کلنو اسنادو له څېړلو وروسته د ګڼو ملکیتونو اسناد موندل شوي، چې ډېری یې ددې خیریه ټولنې د املاکو ریاست په واک کې نه و.

په ټول هېواد کې د افغاني سرې میاشتې په ( **۳۵ پینځه دېرش** ) ښوونیزو مرکزونو کې ( **۵۴۸۷۹ څلورپنځوسرزره، اته سوه اونهه اویا** ) هلکانو او نجونو ته د کمپیوټر انګلیسي او دیني علومو په برخو کې لنډمهاله زده کړې ورکړل شوي.

په ټول هېواد کې د غړیتوب د سیستم له لارې ( **۳۶۴۹ درې زره شپږ سوه اونهه څلوېښت** ) تنه نوي کسان د افغاني سرې میاشتې غړي شوي، چې دوی هره میاشت یوه اندازه معلوم لګښت په خپله خوښه افغاني سرې میاشتې ته ورکوي، ترڅو په بشري مرستو کې ترې ګټه واخیستل شي.

سلګونه رضاکارانو په ټول هېواد کې د وګړو په ژغورنه، سروې او د توکو په توزیع کې ګډون کړی.

د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې او عملیاتو لپاره په ټول هېواد کې د تلې د میاشتې له ۲۴مې تر ۳۰مې د ځانګړې اونۍ په ترڅ کې زرګونو رضاکارانو او کارکوونکو له خیرپالو وګړو نغدي مرسته راټوله کړې او د همدې ځانګړې اونۍ په اړه یې د عامه پوهاوي په موخه په مرکز او ټولو ولایتونو کې د سلګونو ګډونوالو غونډې دایرې کړي.

ټولو ولایتونو کې د افغاني سرې میاشتې کارکوونکو او رضاکارانو ته بېلابېل ورکشاپونه ورکول شوي.

د افغاني سرې میاشتې د ( ۱۸ **اتلس** ) ریاستونو او ( ۲ **دوه** ) مستقلو امریتونو عملیاتي پلانونه چمتو شوي.

د هېواد په کچه له بېلابېلو سرچینو څخه (**۱۳،۳۶۸،۰۲۵،۸۴۰ یو میلیارد، درې سوه شپږدېرش میلیونه، اته سوه پینځه ویشت زره، اته سوه او څلوېښت** ) افغانۍ عواید راټول شوي.

د افغاني سرې مياشتې له لوري په تېر يو کال کې ( **۱۹ نولس)** تنه په اور سخت سوځېدلي او د هډوکو په ميکروب اخته ناروغان المان کې له درملنې او عملياتو وروسته بېرته هېواد ته راستانه شوي.

**ومن الله توفيق**